مؤسس: عبدالرووف بېنوا تأسيس کال: ۱۳۲۸ لمریز

هیواد

ورځپاڼه

یکشنبه | ۲۶ / محرم الحرا م / ۱۴۴۸ هـ ق | ۲۱ / چنگاښ / ۱۴۰۵ هـ ش | 2026/JULY/12 م | خصوصي ګڼه: ۸۳ مه | پرله پسې ګڼه: ۱۰۵٤ مه | دوره: اتمه

امربالمعروف وزیر:

د اسلامي نظام ساتنه د علماوو او ولس ګډ شرعي مسؤلیت دی

د امربالمعـــروف، نهی عن المنکر او شـــکایتونو اورېدلو وزیر شیخ محمد خالد الحنفي جنوب ختیځو ولایتونو ته د سـفر پـه ترڅ کې پـه پکتیا کې د پکتیکا، خوسـت، لوګـر او غزني ولایتونـو له دینـي عالمانـو، قومي مخورو، متنفذینو او مسـؤلینو سره د امربالمعـروف، نهی عـن المنکر او شـکایتونو اورېدلو وزارت د شـرعي قانون د تطبیـق، د معروفاتو اقامې او د منکراتو د مخنیوي په موخه ناسـته کړې ده.

دغـه وزارت پـه یـوه خبرپاڼـه کې لیکلـي، چې نوموړي په یاده ناسـته کې ویلي:«په افغانستان کې د حاکم اسلامي نظام ساتنه او دفاع تر هر چا وړاندې ستاسـې مسؤلیت دی، ځکه نظام اسلامي دی شرعي امیر لری او په راس کې یې ټول علماء دي. د اسلامي امت رهبري د علماوو مسؤلیت دی، ځکه باید له اسـلامي نظام څخه په کلکه دفاع او ساتنه وکړئ.»

ده زیاته کړې:«په تېر شل کلن اشغال کې یرغلګر د فزیکي اشغال تر څنګ فکري اشـغال ته ډېر متوجه وو. دوی د افغانانو د بـې لارې کولو، پر دین د خلکو بدګمانه کولو او دیني ارزښتونو د بدنامۍ لپاره په بېلابېلو لباسونو کې کار وکـړ، چـې اوس د دې ټولو بدیو مخه نیول زموږ او ستاسـې شـرعي مسؤلیت دی.»

په ورته مهال علماء کرامو، متنفذینو او قومي مخورو هم د امربالمعروف نهی عن المنکر د شـرعي قانون په تطبیق کې له محتسبینو سره مرسته او په ټولنه کې د معروفاتو . . . ۳مخ

قطر کې افغان سفیر د ملګرو ملتونو د کډوالۍ عالي کمېشنر سره لیدلي

په دوحه کې د اسلامي امارت سفیر محمد سهیل شاهین د پنا غوښتنې په چـارو کې د ملګرو ملتونو عالي کمېشنر سره لیدنه کړې ده.

په قطر کې د افغانسـتان سـفارت وایي، چې پـه دې لیدنه کې دوارو لوریو له ایران او پاکسـتان څخه د راستنېدونکو کډوالو لپاره د سرپناه، روغتیایـي او ښـوونیزو خدمتونو برابرولـو او همدارنګـه د کاري فرصتونـو د رامنځتـه کولـو په اړه خبرې کړې دي.

همدارنګه پـه دې لیدنه کې د هغو راسـتنو شویو کډوالو سـتونزې او شـکایتونه هم څېړل شوي، چې د دوی شتمنۍ او ملکیتونه . . . ۳مخ

پکتیکا کې د ۶۰۰ مټریک ټنه په ظرفیت سړه خونه جوړېږي

د ریاسـت‌الوزراء اقتصـادي معاونیـت، پکتیـکا کـې د ۶۰۰ مټریـک ټنه په وړتیا، د یوې سـړې خونې د جوړولو خبر ورکړی دی.

د ریاسـت‌الوزراء اقتصـادي معاونیـت د مطبوعاتـي دفتـر د معلوماتو له مخې؛ یاده سـړه خونه به د ۶۰۰ مټریک ټـنـه په وړتیا او د ۹۳.۵ میلیونه افغانیو په ارزښـت د شـپږ جریبه ځمکې په سـاحه کې جوړه شي.

د یـادې سـړې خونـې د جوړولو چارې ۳۰ سـلنه ترسـره شوې او د روان ۱۴۰۵ لمریـز کال تـر پایه پورې به یې چارې بشـپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي . . . ۳مخ

سرلیکنه

د افغانستان او هند اقتصادي اړیکې لا پراخېږي

هغـه هېوادونه چـې د خپلو طبیعـي سـرچینو او کرنیـزو ظرفیتونو د ودې لپـاره له سـیمه‌ییزو او نړیوالو فرصتونو سـمه ګټه اخلـي، د اقتصادي ودې بهیر یـې هم چټـک وي. افغانسـتان د حاصلخېزو ځمکو، مناسـب اقلیم او پراخـو کرنیزو امکاناتو له امله د سـیمې له هغـو هېوادونو څخه دی چې د کرنـې او مالدارۍ په برخه کـې د پام وړ ظرفیت لري. لـه همدې امله له بېلابېلو هېوادونو سـره د کرنیـزو همکاریو پراخېدل یـوازې یو عادي تعامل نـه دی، بلکـې د هېـواد د اقتصـادي راتلونکي لپـاره مهم ارزښـت لري. د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزیر مولوي عطاءالله عمري د هند په پلازمېنه نوي ډیلي کې د افغانستان او هند د سوداګریزو فرصتونو په غونډه کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د کرنیزو همکاریو د پراختیا پر اړتیا ټینګار کړی دی. نوموړي ویلي چې شـاوخوا ۸۰ سلنه افغانان د خپل ژوند اړتیاوې د کرنې او مالدارۍ له لارې پوره کوي او له هند سـره په دې برخه کې د همکاریو د پراخېدو لپاره مناسـب فرصتونـه موجود دي. هغه د هندي چارواکـو هرکلی هم د دواړو هېوادونو د اړیکو د پراخېدو او اقتصادي همکاریو لپاره یو مثبت ګام بللی دی. نن افغانسـتان له ګنـو هېوادونو سـره خپلې اقتصادي اړیکـې پراخوي او د متوازن تعامل سیاسـت پر مخ وړي. له هند سـره د کرنې او سـوداګرۍ پـه برخه کـې همـکارۍ د دې ښکارندونه کوي چـې افغانسـتان غواړي خپلـې کرنیـزې ورټیـاوې نړیوالـو بازارونو ته ورسـوي، د بزګرانـو لپاره نـوي فرصتونـه برابر کـړي او د خپلـو تولیداتـو صادرات زیـات کړي. کرنـه د افغانسـتان د اقتصاد د مـلا تیـر ده. میلیونونه افغانـان د همدې سـکټور لـه لارې خپل ژوند پر مـخ وړي او د هېواد د کورنـي تولید لویه برخـه هم لـه همـدې لارې برابرېـږي. هره همـکاري چـې د اصلاح شـویو تخمونـو، عصـري کرنیـزو وسـایلو، اوبـو لګولـو، پروسـس، بسـته‌بندۍ او بازارموندنـې پـه برخه کـې رامنځته کېـږي، د افغان بزګر لپـاره مسـتقیمه ګټه لـري او د هېواد اقتصـادي ودې ته زمینـه برابروي. په وروسـتیو کلونو کې د افغانستان اسـلامي امارت د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ سـکټور ته ځانګړې پاملرنه کړې ده. د اوبـو د مدیریت پروژې، د کانالونـو او بندونو جـوړول، د کرنیزو ځمکو پراختیـا، د کورنیو تولیداتو ملاتـړ او د صادراتـو د زیاتوالي هڅـې د همدې تګلارې برخـه ده. کله چې دا داخلي هڅې له نړیوالو همکاریو سـره یوځای شـي، د افغانسـتان کرنیز سـکتور لا پیـاوړی کېږي او د هېـواد اقتصاد ته نوې سـاه ورکوي. له هند سـره د کرنیـزو همکاریو پراخېدل یـوازې د دوو هېوادونو ترمنځ د اړیکو پراختیا نه ده، بلکې د افغان بزګر، افغان سـوداګر او د هېواد د اقتصاد لپاره یو مهم فرصت هم دی. د هند سـتر بازار کولی شي د افغانستان د تازه او وچـو مېوو، زعفرانو، جلغوزیـو، طبي بوټو او نـورو کرنیزو محصولاتو لپـاره لا زیات امکانات برابر کړي. دا چاره د صادراتـو د زیاتوالي، د بزګر د عایـد د لوړوالـي او د هېواد د بهرنیو اسـعارو د زیاتېـدو لامل ګرځي. افغانستان د اقتصادي ځان‌بسـیا پر لور په ثابتو ګامونو روان دی. ان‌شاءالله له هند او د سـیمې له نورو هېوادونو سـره د کرنې، سـوداګرۍ او پانګونې همکارۍ به نورې هم پراخې شـي. هره نوې اقتصادي اړیکه، هر نوی بازار او هـره نوې پانګونه د افغانسـتان د پرمختګ لپاره یـو نوی فرصت دی. د خدای په مرسـته، د افغان بزګر د لاس خوله به نوره هم پیاوړې شي، کرنیز تولیدات به زیات شـي او افغانستان به د سـیمې په کرنیز او اقتصادي ډګر کې لا پیاوړی حضور ولري.

لوګر کې هر کال شاوخوا ۸۰۰ مټریک ټنه د غنمو اصلاح شوي تخمونه راټولېږي

د لوګر د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست مسـؤلین وایي، چې په دغه ولایـت کې هر کال شـاوخوا ۸۰۰ مټریک ټنـه د غنمو اصلاح شـوي تخمونـه را ټولېږي او بازار ته وړاندې کېږي.

د پل‌علم ښـار د کوډلۍ سـیمې د «بـرادران لوګـر» د اصلاح شـویو تخمونو د تولید او پروسـس شرکت مسؤل محمد شاه‌پور محمدي وایي، چـې د قراردادونو له مخې له بزګرانو څخه د اصلاح شـویو غنمو تخمونه راټولوي، پاکوي، پروسـس او بسته بندي کوي یې او د کرنې، اوبولګولو او مالـدارۍ وزارت لـه لابراتواري ازموینو او کیفیت ارزونې وروسته یې بېرته بزګرانو، مؤسسو او اړوندو ادارو ته وړاندې کوي.

د نوموړي په وینا، په دغه شرکت کې شـاوخوا ۴۰ کسـانو ته د کار زمینه برابره شـوې او هڅې روانې دي، څو د تولید او پروسـس ظرفیت نور هم لوړ شي.

د شـرکت تخنیکي مسـؤل محمد ابراهیم وایي، چې د اصلاح شـویو تخمونو د تولید او . . . ۳مخ

مولوي عطاء الله عمري د افغانستان او هند د سوداګریزو فرصتونو په غونډه کې ګډون کړی



د کرنـې، اوبـو لګولـو او مالدارۍ وزیرمولوي عطاءاللـه عمري، هند ته د خپل رسـمي سـفر په دوام، د «افغانسـتان او هند د سـوداګریزو فرصتونو»غونډه کې ګـډون او وینا کړې.د کرنـې وزیر په خپله وینا کې د افغانستان او هند ترمنځ د اقتصادي او سـوداګریزو همکاریـو پراختیا د دواړو هېوادونو د ګډو ګټو لپاره مهمه باله او د کرنې، اوبو لګولو، مالدارۍ، د کرنیـزو محصولاتو د پروسـس صنعت، پانګونې، د ټکنالوژۍ لېږد، د صادراتو پراختیا او خصوصي سکټور ته د نویو فرصتونو د رامنځته کولو په برخو کـې د همکاریو پر پراختیا یې ټینګار کړی.مولوي عطاءالله عمري د افغانسـتان د کرنې سکټور پراخو ظرفیتونو ته په اشارې سره، له هندي پانګوالو . . . ۳مخ

د اقینې او حیرتان بندرونو ترمنځ د اوسپنې پټلۍ د غځولو چارې پیل شوې

له ترکمنستان سـره پوله کې د فاریاب له اقینې بنـدر څخه د بلـخ حیرتان سـوداګریز بندر پورې د اوسپنې پټلۍ د یوې نوې کرښې غځولو چارې پیل شوې.

د یـادې پروژې په لومړي پړاو کې به له اقینې بندر څخـه د فاریاب د اندخوي ولسوالۍ تر مرکز پورې د لس کیلومتره رېل پټلۍ د جوړولو چارې د څه باندې ۱۲ میلیونه امریکایي ډالرو په لګښت عملي شي.

د ټولګټو چارو وزارت مسؤلین وایي: د پروژې د دویم پړاو چارې هم په قرار داد ورکړل شوې، چې د فاریاب . . . ۲مخ

ملګرو ملتونو د خبرو له لارې د کابل ـ اسلام اباد د اختلافونو هواري غوښتنه کړې

پر افغـان خاوره د پاکسـتان پوځي رژیم پرله‌پسې تېریو نه یوازې د کابل او اسلام‌اباد ترمنځ اړیکې ترینګلې کړې دي، بلکې ورسـره جوخت یې سیمه‌ییز ثبات ته هم خطرونه زیات کړي او سوداګرې یې په پراخه کچه زیانمنه کړې ده.

دغه کړکېچونه او له افغانسـتان سره د پاکسـتان پوځي رژیـم د مبهمې پالیسـۍ دوام هغه پوښتنې دي چې لا هم بې ځوابه پاتې دي.

د ملګـرو ملتونـو د کډوالـو عالي کمېشـنر لـه امریکایـي ټلوېزیون «سـکای نیوز» سـره په مرکه کې د افغانسـتان او پاکسـتان ترمنـځ د ترینګلتیاوو او کړکېچونو د ژر تر ژره حل غوښتنه کړې.

نومـوړي ټینـګار کـړی، چـې د افغانسـتان، پاکسـتان او ایـران درې‌اړخیز جوړښت، د دوحې بهیر او د افغان کډوالو لپاره د سـویس په منځګړیتوب ستراتیژیکه . . . ۳مخ

لغمان کې د څلورو لسیزو اوږده شخړه حل شوه

د لغمـان مرکز اړونـد د ګلارام په سـیمه کې د دوو کورنیـو ترمنځ هغه دښـمني، چې شـاوخوا ۴۰ کاله وړاندې د ماشـومانو پر سـر رامنځته شوې وه او په پایله کې یې یو تن وژل شـوی و، د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو د آمر مولوي نورالهادي (چپاو) ځایي علماوو شورا د غړو او قومي مخورو د ګډو هلو ځلو له لارې په وروروله بدله شـوه. مولوي نورالهادي (چپاو) او قومي مشـرانو په همدې مناسبت جـوړې شـوې غونډې تـه دواړه کورنۍ حاضرې کـړې، له هغوی سـره یې د سـولې او پخلاینې په اړه مفصلې مشـورې وکړې او دې ته یې وهڅول، چې خپله دښـمني پای ته ورسـوي. په همدې لړ کې ښـاغلي چپاو وویل: چې ستاسو د دواړو کورنیو دغـه نېک اقدام به د سـیمې د خلکو لپاره د سولې او یووالي یوه غـوره بېلګه وګرځي او نور خلک به هم وهڅول شي، چې خپلې شـخړې د تفاهـم له لارې هـواري کړي. په پای کې ښـکېلو لوریو په خپل منځ کې د دوسـتۍ او یووالـي پریکـړه وکړه او پېښـه شـوې دښـمني یې د تل لپاره له منځه یوړه.

د رنګ جوړولو صنعت‌کاران:

کورنیو تولیداتو د هېواد ډېرې اړتیاوې پوره کړې

د هېـواد دننـه د رنـګ جوړولـو کارخونو مسئولین وایي٬ چې په کور دننـه د رنګ جوړولو سـکټور ورځ تر بلـې پراختیا مومـي او زیاتوي چې اوسـمهال د ډېـرو هېوادوالو اړتیاوې د خپلو کورنیو تولید شـوو رنګونو نه پوره کېـږي. دوی وایي: د رنګ جوړولو پـه برخه کې ډېرې فابریکـې فعالیت کوي چې د هوا د ګرمېدو سـره یې بازارونه ښه شوي دي او پېرودونکي یې زیات شـوي دي. بل لور ته اقتصادي شـنوونکي په دې باور دي چې د صنعت ودې سـره پیسـې په هېواد کې څرخش پیـدا کوي او نـورو هېوادونو ته یې د لېږد مخه نیـول کېږي. د صنعت وده د غوره کیفیت سـره نغښتې ده، نو که هر څومره یې کیفیت ښه وي، همغومره یې اړتیا ډېرېږي.

په دې اړوند د رنګ . . . ۲مخ

د ارشيفونو ارزښت؛ د دولتونو تاريخي حافظه

احسان الله احرار

يو دولت هغه وخت خپل تېر په سمه توګه درک کولای شي او راتلونکې په روښانه ليد جوړولای شي چې د خپلو پرېکړو، قوانينو، تړونونو، رسمي اسنادو او تاريخي تجربو خوندي حافظه ولري. که دا حافظه له منځه ولاړه شي، د دولتونو اداري تسلسل ګډوډېږي، تاريخي حقيقتونه مبهم کېږي او راتلونکی نسل د خپل سياسي، حقوقي او اداري ميراث د پېژندلو مهمې سرچينې له لاسه ورکوي. همدا لامل دی چې ارشيفونه د هر دولت د حافظې، هويت او تاريخي تسلسل تر ټولو مهم بنسټ ګڼل کېږي. هر رسمي سند چې نن په يوه ارشيف کې ساتل کېږي، ښايي سبا د يوه تاريخي حقيقت، يوه حقوقي پرېکړې او يا د يوې علمي څېړنې تر ټولو معتبره سرچينه وي.د ارشيف مفهوم تر هغه ډېر پراخ دی چې يوازې د زړو دوسيو او کاغذونو د ساتلو ځای وبلل شي. ارشيف د يوه دولت د اداري ژوند، سياسي تحولاتو، اقتصادي پلانونو، نړيوالو اړيکو، حقوقي پرېکړو او ټولنيزو بدلونونو ژوندۍ حافظه ده. هر فرمان، هر تړون، هره نقشه، هر احصائيوي راپور، هر رسمي مکتوب او هر تاريخي سند د خپل وخت د شرايطو، سياستونو او پرېکړو شاهدي ورکوي. کله چې دا اسناد په علمي معيارونو سره تنظيم او خوندي شي، د راتلونکو نسلونو لپاره د تاريخ تر ټولو معتبرې سرچينې ګرځي.د نړۍ د دولتونو تاريخ دا حقيقت ثابت کړی چې منظم ارشيف د قوي اداري نښه ده. هغه حکومتونه چې د خپلو اسنادو د ثبت، ساتنې او طبقه‌بندۍ لپاره اغېزمن نظام لري، د اداري شفافيت، حقوقي ثبات او تاريخي اعتبار له پلوه هم پياوړي وي. برعکس، هغه ادارې چې اسناد يې ګډوډ، نيمګړي او يا ورک شوي وي، د پرېکړو د تعقيب، د حقوقو د اثبات او د تاريخي واقعيتونو د روښانولو پر مهال له جدي ستونزو سره مخ کېږي.د ارشيفونو تاريخ د ليکدود له تاريخ سره نږدې اړيکه لري. کله چې انسان د خپلې ادارې، سوداګرۍ او حکومتولۍ چارې په ليکلې بڼه ثبت کړې، اړتيا هم پيدا شوه چې دغه اسناد خوندي وساتل شي. د بين‌النهرين، مصر، فارس، روم او نورو لرغونو تمدنونو دولتي اسناد تر نن ورځې د هماغو ارشيفي دودونو له امله تر موږ رسېدلي دي. د دغو اسنادو له لارې مورخان د مالياتو نظام، د ځمکو وېش، سوداګريزې اړيکې، پوځي جوړښت او اداري قوانين په دقيق ډول څېړي. په اسلامي تمدن کې هم د رسمي اسنادو ساتنې ته ځانګړې پاملرنه کېده. د خلافتونو په دوره کې د «ديوان» نظام د مالي، اداري او پوځي چارو د ثبت او تنظيم مهم مرکز و. د مالياتو، قضا، بيت‌المال، ولايتي چارو او نړيوالو اړيکو اړوند اسناد په منظم ډول ساتل کېدل. د همدې اسنادو له برکته نن د اسلامي حکومتولۍ د بېلابېلو پړاوونو په اړه ګڼ معتبر معلومات په اختيار کې لرو. که دا اسناد نه وای خوندي شوي، د اسلامي تمدن د اداري جوړښت ډېرې برخې به د اټکل تر کچې محدودې پاتې وای. د ارشيفونو ارزښت هغه وخت لا ښه څرګندېږي چې د تاريخي شخړو او حقوقي دعوو بېلګې وڅېړل شي. د نړۍ ډېری سرحدي تړونونه، سياسي موافقې، د ملکيت اسناد او نړيوال حقوقي قضيې د هماغو رسمي اسنادو پر بنسټ ارزول کېږي چې په ملي او نړيوالو ارشيفونو کې خوندي دي. په ډېرو مواردو کې يوه څو پاڼيزه دوسيه د لسګونو کلونو حقوقي اختلاف حل کړی او د يوه ملت د تاريخي حق د اثبات لپاره بنسټيز سند ګرځېدلی دی.ارشيفونه يوازې د مورخانو اړتيا نه پوره کوي. اقتصادپوهان د پخوانيو اقتصادي راپورونو له لارې د بازارونو بدلون څېړي، حقوقپوهان د قوانينو د تحول بهير ارزوي، ټولنپوهان د ټولنيزو بدلونونو شاليد لټوي او سياستپوهان د دولتونو د پرېکړو تسلسل تحليلوي. له همدې امله ارشيف د علومو د ګڼو څانګو لپاره د لومړۍ درجې سرچينه بلل کېږي.د دولتونو د ادارې په بهير کې هم ارشيف مهم رول لري. هره اداره چې خپل اسناد په منظم ډول ثبت او خوندي کړي، د پخوانيو پرېکړو د ارزونې، د راتلونکو پروګرامونو د جوړولو او د مسئوليت د معلومولو توان پيدا کوي. که اسناد ورک شي يا ګډوډ پاتې شي، اداري حافظه کمزورې کېږي او هر نوی مسئول اړ کېږي چې ډېرې چارې له سره پيل کړي. دا حالت د وخت، امکاناتو او ملي سرچينو د ضايع کېدو لامل ګرځي. د شلمې او يوويشتمې پېړۍ پرمختګونو د ارشيفونو بڼه هم بدله کړې ده. پخوا اسناد يوازې په کاغذي بڼه ساتل کېدل؛ خو نن ډېری هېوادونه د ډيجيټلي ارشيفونو پر لور روان دي. ميليونونه تاريخي اسناد، نقشې، انځورونه، ويډيوګانې او رسمي دوسيې په برېښنايي بڼه ثبتېږي. دا بدلون د اسنادو د ساتنې کچه لوړه کړې، د معلوماتو موندل يې چټک کړي او د طبيعي پېښو يا جګړو پر مهال يې د ضايع کېدو خطر هم کم کړی دی.سره له دې، ډيجيټلي ارشيفونه خپل ځانګړي مسئوليتونه هم لري. د سايبري بريدونو، د معلوماتو د غلا، د برېښنايي سيستمونو د خرابۍ او د معلوماتي امنيت ستونزې د دې سبب شوې چې پرمختللي هېوادونه د خپلو ارشيفونو لپاره څو پوړيز امنيتي سيستمونه جوړ کړي. ځکه دوی پوهېږي چې د دولتي اسنادو له منځه تګ يوازې د معلوماتو ضايع کېدل نه دي، بلکې د ملي حافظې د زيانمنېدو معنا هم لري. افغانستان هم د ارشيفونو له پلوه ارزښتناک تاريخي ميراث لري. د بېلابېلو دورو رسمي فرمانونه، دولتي اسناد، تاريخي نقشې، د ځمکو ثبت، نړيوال تړونونه، خطي نسخې او اداري دوسيې د هېواد د سياسي او حقوقي تاريخ مهمې سرچينې دي. له بده مرغه، جګړو، بې‌ثباتۍ او د اسنادو د ساتنې د کمزوري نظام له امله د دې ميراث يوه برخه له منځه تللې او يوه برخه بهر ته لېږدول شوې ده. دا تجربه څرګندوي چې د ارشيف ساتنه د سولې او ثبات له اړتياوو څخه هم شمېرل کېږي. د افغانستان لپاره د ارشيفونو عصري کول ځانګړې اهميت لري. که د دولتي اسنادو د ثبت، ډيجيټلي کولو او خوندي ساتلو بهير پراخ شي، د ادارو ترمنځ همغږي به پياوړې شي، د حقوقي شخړو د حل بهير به اسانه شي او د راتلونکو څېړنو لپاره به معتبرې سرچينې خوندي پاتې شي. دا کار د اداري اصلاحاتو، شفافيت او ملي حافظې د پياوړتيا مهم ګام هم ګڼل کېږي. د ارشيفونو ارزښت د فرهنګي ميراث له ساتنې سره هم تړاو لري. د تاريخي انځورونو، غږيزو ثبتونو، لرغونو نقشو، د مشهورو شخصيتونو د لاسليک شوو اسنادو او د ملي پېښو د رسمي ريکارډونو ساتنه د يوه ملت د هويت د بشپړ انځور په جوړولو کې مهم رول لري. هر هغه سند چې نن په سمه توګه وساتل شي، سبا به د تاريخ د يوې مهمې پوښتنې ځواب وي. د نړۍ ډېر پرمختللي هېوادونه خپل ملي ارشيفونه د علمي څېړنو پر مهمو مرکزونو بدل کړي دي. پوهنتونونه، څېړنيز بنسټونه او مورخان د دغو ارشيفونو له اسنادو څخه د نوو علمي آثارو د ليکلو لپاره ګټه اخلي. همدا بهير د دې سبب شوی چې د دولتونو تاريخ د روايتونو پر ځای د مستندو اسنادو پر بنسټ وليکل شي.

ارشيف د يوه دولت د زړو دوسيو ګودام نه دی؛ دا د دولت د حافظې، هويت او تاريخي تسلسل مهم بنسټ دی. هر رسمي سند د يوې پرېکړې شاهد دی، هر ثبت شوی ريکارډ د يوه پړاو استازيتوب کوي او هر خوندي ارشيف راتلونکو نسلونو ته د خپل تېر د سمې پېژندنې فرصت برابروي. هغه دولت چې خپله تاريخي حافظه وساتي، خپلې اداري پياوړې کوي، خپل حقوق خوندي کوي او د راتلونکي لپاره پر مستندو تجربو ولاړ تصميمونه نيسي. له همدې امله د ارشيف ساتنه د کاغذونو ساتنه نه ده؛ دا د دولت د حافظې، اعتبار او تاريخي شخصيت ساتنه ده.

کورنيو توليداتو . . .

يوې توليدي فابريکې رئيس' فريد احمد مولوي زاده' د هېواد ورځپاڼې خبريال سره د پوښتنو په ځوابونو کې ويلي دي' چې د تېرو ۲۲ کلونو راهسې د رنګ د توليداتو په برخه کې فعاليت کوي او د ۲.۵ ميليونه ډالرو په پانګونې سره د رنګ د توليداتو په برخه کې پرمختګ کړی او سلګونه ځوانانو ته په کې د کار زمينه برابره شوې ده.

د نوموړي په وينا: «مونږ په هېواد کې د رنګ په پرتله د قوطي، سرکونو رنګ، برسونه او د آپارتمانونو رنګونه توليد کوو چې د غوره بازار څخه برخمن دي. همداشان اوسمهال ۴۶ قلمه د رنګ بېلا بېل توليدات لرو چې د ځينو مواد په کور دننه تيارېږي او ځيني نور د بهرنيو هېوادونو ته راوارد کېږي.»

د مولوي زاده په وينا: «د رنګ جوړولو ټوله پروسه په فابريکه کې دننه تر سره کېږي او په ښه کيفيت سره د هېواد بازارونو ته وړاندې کېږي. د خامو موادو برخه کې لا په کور دننه کار نه دی شوی؛ خو مسئولينو ويلي دي چې د رنګ هر ډول موادو لپاره خام مواد شتون لري چې د کانونو د تثبيت سره به خام مواد په کور دننه په پريمانه اندازه پيدا شي.» په رنګ باندې د پانګونې يو بل تن پانګوال' احمد سير صميم' وايي: «د وروستيو کلونو په لړ کې د هېواد دننه د رنګ توليد شوی دی چې په دې برخه کې ځان بسياينې ته نږدې شوي يو. د اوس لپاره بهرنيو هېوادونو ته صادرات نه لرو؛ خو که همدا ډول دوام پيدا کړي، نو ور سره به د صادراتو بهير هم پيل شي.»

د نوموړي په وينا: «د هېوادوالو اړتياوو ته په کتلو سره د ورځې نږدې څلوېښت ټنه رنګ توليد کوو، که چېرته اړتيا زياته شي، نو تر شپېته ټنه پورې د توليد وړتيا شته دی. رنګ په ښه کيفيت توليد کېږي چې د بهرنيو هېوادونو نه راوارد شوي ساختماني رنګونو څخه غوره دي او د ځان بديل نه لري.»

د صميم په خبره: «اوسمهال په کور دننه ساختماني رنګونه په پرېمانه ډول توليد کېږي چې بهرنيو هېوادونو نه د رنګ راوارد کېدلو ته اړتيا نشته ده چې يوازې په کار ده ټول هېوادوال ورځيني کټمه پورته کړي او دا به معلومه شوي چې نور د بل هېواد رنګونو ته اړتيا نه لرو او اړتياووې په کور دننه پوره کېږي.» په ورته مهال د اقتصادي چارو کارپوه، ثناء الله نجيب' وايي: «د ساختماني رنګونو د صنعت وده د وارداتي رنګونو اړتيا کموي او بهر ته د پيسو د وتلو مخه نيسي چې په کور دننه څرخېږي او بېرته د هېواد دننه کارول کېږي. همدا ډول د رنګ سکټور پراختيا سره د کورنيو فابريکو او کوچنيو صنعتونو د ودې لامل کېږي چې په کې ګڼ شمېر فرصتونو د برابرولو زمينه برابروي.» د ده په وينا: «دا چې ورځ تر بلې د هېواد دننه سکټورونه وده کوي، نو په کار ده چې د هر سکټور توليد شوي مواد ښه کيفيت ولري تر څو د صادراتو اړتيا يې زياته شي. کوم رنګونه چې اوسمهال په کور دننه توليد کېږي، بسنه پرې نه کېږي، نو اړينه ده چې همدا ډول د رنګ صنعت وده وکړي تر څو مالي ارزښتونه په کور دننه ولرو.»

زيارمل هوتک

د اقينې او حيرتان . . .

له اندخوی ولسوالۍ څخه د جوزجان تر شبرغان ښار پورې د ۵۵ کيلومتره نوې رېل پټلۍ غځول په کې شامل دي.

د ټولګټو وزارت وياند محمد اشرف حق‌شناس وايي: « له اندخوی څخه تر شبرغان پورې د پاتې ۵۵ کيلومتره برخې د سروې او ډيزاين چارې هم د افغانستان اسلامي امارت د ټولګټو وزارت او خصوصي سکټور ترمنځ قرارداد شوې او دا مهال جريان لري. همدارنګه له مزار شريف څخه تر شبرغان پورې د اوسپنې پټلۍ د سروې او ډيزاين په اړه له يوه کورني ساختماني شرکت سره خبرې روانې دي چې له هوکړې وروسته به يې عملي چارې هم پيل شي.»

د اقينې بندر او اندخوی ولسوالۍ ترمنځ د ۱۰ کيلومتره رېل پټلۍ د جوړولو چارې له شاوخوا اوو مياشتو راهيسې روانې دي.

د پروژې پلي کوونکي شرکت مسؤلين وايي: دا رېل کرښه به د افغانستان او ترکمنستان ترمنځ د سوداګرۍ او اقتصادي همکاريو په پراختيا کې مهم رول ولوبوي. انجينر محمد يونس وزيري وايي: ((دا کرښه په لوړ معيار او کيفيت غځول کېږي. موږ يې د کاري کيفيت په اړه افغانانو ته پوره ډاډ ورکوو. دا عادي کرښه نه ده، بلکې د افغانستان او ترکمنستان هېوادونو ترمنځ د اړيکو، وفادارۍ او ښه ګاونډيتوب نښه ده او د دغې پروژو پلي کېدل به اړيکې نورې هم پراخې کړي.))

د هېواد په شمال کې به د رېل دا کرښه د سوداګرۍ د لېږد لګښتونه راکم او افغانستان به د سيمې په مهم ټرانزيټي څلورلارې بدل کړي. خصوصي سکټور بيا باور لري چې له دې اقدام سره به د سوداګرۍ په برخه کې د پام وړ اسانتياوې رامنځته شي او د تخنيکي معيارونو پر تطبيق کولو ټينګار کوي.

د فارياب ولايت اندخوی ولسوالۍ د صنعت او سوداګرۍ خونې مدير ابراهيم يولداش وايي: « له دې سره به بارونو په انتقال او ښکته پورته کېدو کې چټکوالی راشي. زموږ غوښتنه دا ده چې د دې لپاره لوی هنګرونه ستندرد جوړ کړي، ترڅو د سوداګرو مالونه خوندي شي. همدارنګه د بارونو د تخليې لپاره سايه وانونه هم جوړ شي.» د بلخ ولايت د سوداګرۍ خونې اداري مرستيال معراج‌الدين پرهېز وايي: « له اندخوی څخه تر شبرغان پورې لس کيلومتره نور کار هم کېږي. دا مهال په عاجله توګه پر دويم خط هم کار روان دی، ترڅو دا کرښه دوه خطه شي. په پام کې ده چې دا پټلۍ شبرغان ته را ورسېږي او بيا له هغه ځايه د مزار شريف له رېل کرښو سره يوځای شي.» اقينه د هېواد په شمال کې هغه سوداګريز بندر دی چې د فارياب د اندخوی ولسوالۍ له لارې افغانستان او ترکمنستان سره نښلوي. دلته د اوسپنې پټلۍ له لارې يوازې په تېرو درېيو مياشتو کې تر ۲۵۳ زره متريک ټنو زيات توکي لېږدول شوي چې د سوداګريزو راکړو ورکړو د پراختيا او ټرانزيټي فعاليتونو د پياوړتيا څرګندونه کوي.

د کورنيو چارو . . .

بل لور ته، د شاپور ځدراڼ د جنازې او فاتحې مراسم د لسګونه زره هېوادوالو، د کرېکټ ملي لوبډلې د لوبغاړو، ورزشي شخصيتونو، قومي مشرانو او بېلابېلو چارواکو په ګډون د امن، نظم او درناوي په فضا کې ترسره شول. ګډونوالو د نوموړي پر مړينه ژوره خواشيني څرګنده کړه او د هغه د کورنۍ سره يې خپله خواخوږي وکړه.

د کور او ښار . . .

د ښار د ځمکو د کارولو ډولونه او ودانيز تراکم د اوسنيو او راتلونکو اړتياوو سره سم تنظيم شوي دي.

موخه دا ده، چې د ښاري پراختيا بهير په علمي، معياري او منظم ډول پر مخ لاړ شي.په دغه پلان کې د استوګنيزو، سوداګريزو، خدماتي او عامه تأسيساتو ساحې، د ښاري زېربناوو اړتياوې او د ځمکو د کارولو اصول د نافذه ښاري معيارونو له مخې تنظيم شوي دي.

تمه چې دا چاره به، د ښاروالۍ او نورو اړوندو ادارو لپاره د تطبيق بنسټيز تخنيکي بستر برابر کړي.د يادونې وړ ده، چې د تالقان ښار د زون بندۍ پلان له تشريحي راپور سره يوځای په ۲۳ پاڼو کې ترتيب او د نافذه قوانينو او مقرراتو له مخې به، د ټولو اړوندو ادارو له لوري عملي شي.

په درېيو ولايتونو . . .

د عامې روغتيا وزارت زياته کړې چې په ختيځ زون کې د اميندوارو ښځو لپاره هم د اميندوارۍ د لومړنيو روغتيايي خدمتونو (ANC۱) له لارې د ۹۷ زره او ۵۲۴ پشه‌خانو د وېش لړۍ روانه ده.

په خبرپاڼه کې راغلي، چې د تورخم له لارې راستنېدونکو کډوالو ته د ۱۳۲ زره او ۷۸۷ پشه‌خانو د وېش لړۍ به هم ډېر ژر پيل شي. د عامې روغتيا وزارت ويلي چې د دغه کمپاين موخه په ملاريا او ډينګي ناروغيو د اخته کېدو د خطر کمول او د دغو ناروغيو د مخنيوي وسايلو ته د کورنيو د لاسرسي پراخول دي.

د عامې روغتيا وزارت ويلي د دغه کمپاين موخه دا ده چې د ملاريا او ډينګي ناروغيو مخنيوی وشي.

د ننګرهار؛ ۱۰۰ . . .

وسايلو برابرول د بزګرانو د توليدي وړتياوو د لوړولو، د کرنيزو لګښتونو د راکمولو او د خوړو د خونديتوب د پياوړتيا لپاره مهم ګام ګڼل کېږي.»

د حاتمي په خبره: «د دغو مرستو موخه د بزګرانو ملاتړ، د اصلاح شويو تخمونو ترويج، د کرنيز توليد زياتوالی، د بزګرانو اقتصادي پياوړتيا او د هېواد د خوړو خونديتوب ته وده ورکول دي.»

نوموړي په ټينګار سره ويلي، وزارت هڅه کوي چې د هېواد په بېلابېلو ولايتونو کې د ورته پروګرامونو له لارې د کرنې عصري کېدو او د بزګرانو د عايد لوړولو ته زمينه برابره کړي.

بل لور ته زراعتي کارپوه او متخصص' استاد محمد اسحاق پيکان' وايي: «د اصلاح شويو تخمونو او معياري سرو وېش د کرنيزو حاصلاتو د زياتوالي لپاره اغېزمن اقدام دی.»

د نوموړي په وينا: «که بزګران د تخمونو د کرلو، د سرو د مناسب استعمال، اوبو لګولو او د نباتاتو د ساتنې اړوند لازمې تخنيکي لارښوونې هم ترلاسه کړي، نو د جوارو حاصل به د دوديزو تخمونو په پرتله د پام وړ زيات شي.»

پيکان ويلي، افغانستان د کرنې پر بنسټ ولاړ هېواد دی او د بزګرانو ملاتړ، د اصلاح شويو تخمونو ترويج، د نوې کرنيزې ټکنالوژۍ کارول او دوامداره تخنيکي روزنې کولی شي د خوراکي توکو په توليد کې د ځان بسياينې، د بزګرانو د عايد لوړولو او د کليوالو سيمو د اقتصادي ودې په برخه کې به مهم رول ولوبوي.

حضرت بلال صافي

بلخ کې د تېر. . .

۲۰۵ زره ټنه غنم ترلاسه شوي وو.

سږ کال په بلخ کې پر څه باندې ۱۸۰ زره هکتاره للمي او اوبيزه ځمکه غنم کرل شوي دي.

ځمکې ښويېدنې. . .

د فليپين د هواپېژندنې اداري (PAGASA) ويلي، که څه هم چې د «باوي» توپان به په مستقيم ډول فليپين ته داخل نه شي؛ خو ورسره تړلي باراني سيستمونه به د دغه هېواد په يو شمېر سيمو کې د سختو بارانونو، سېلابونو او د ځمکې ښويېدنې خطر رامنځته کړي.

راپورونه ښيي چې په تايوان کې سلګونه کسان له خپلو کورونو اېستل شوي او د توپان د رسېدو له امله يو شمېر ښوونځي، اداري او دولتي دفترونه هم تړل شوي دي.

افغان اعلانات

اعلان داوطلبی

موضوع: نشر اعلان مجدد مقدار (۹۱۳۸٫۸۷۸) نه هزار و یکصد و سی و هشت اعشاریه هشت صد و هفتاد و هشت تن سرب و جست سهم وزارت از تولیدات معدن سرب و جست ساحه پامی ککرک ولسوالی یکاولنگ ولایت بامیان از طریق پروسه داوطلبی!

قرار است وزارت معادن و پترولیم مقدار (۹۱۳۸٫۸۷۸) نه هزار و یکصد و سی و هشت اعشاریه هشت صد و هفتاد و هشت تن سرب و جست سهم وزارت از تولیدات معدن سرب و جست ساحه پامی ککرک ولسوالی یکاولنگ ولایت بامیان تحت قرارداد شرکت افغان جرمن باختر را از تاریخ ۱٤٤۸/۰۱/۱٤ ه ق مطابق ۱٤۰۵/۰٤/۰۹ ه ش غرض آگاهی علاقمندان به منظور فروش از طریق پروسه داوطلبی برای مدت ۱۰ روز به اعلان بسپارد.

قابل ذکر است که قیمت ابتدایی برای فی تن کرومایت متذکره از طرف کمیته محترم قیمت گذاری مبلغ (٥٦٤) پنجصد و شصت و چهار دالر امریکایی تعین گردیده است و متقاضیان محترم میتوانند درخواستی شان را جهت اشتراک در پروسه داوطلبی در جریان اعلان به ریاست مدیریت تطبیق معادن فلزی ارائه و شرطنامه مربوطه را دریافت نموده و بعد از ختم میعاد اعلان داوطلبی درخواستی های متقاضیان قابل پذیرش نمیباشد و همچنان داوطلبان محترم مکلف اند مطابق رهنمود جدا سازی سهم، ده (۱۰) فیصد مجموعه قیمت ابتدایی را مواد معدنی متذکره را به حیث تضمین ذریعه تضمین خط بانکی به وزارت معادن و پترولیم ارائیه نمایند.

اعلان دعوت به داوطلبی

موضوع: پروژه تهیه و تدارک وسایل برق ، نلدوانی ، نجاری و مرکز گرمی مورد ضرورت شفاخانه تدریسی علی آباد برای سال مالی ۱٤۰۵

شماره دعوت به داوطلبی:
MOHE/1405/ATH/NCB/G-07

پوهنتون علوم طبی کابل «ابوعلی ابن سینا» از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه پروژه تهیه و تدارک وسایل برق ، نلدوانی ، نجاری و مرکز گرمی مورد ضرورت شفاخانه تدریسی علی آباد برای سال مالی ۱٤۰۵، اشتراک نموده و نقل شرطنامه را از تاریخ نشر اعلان الی ۲۱ روز تقویمی از مدیریت عمومی تهیه و تدارکات شفاخانه تدریسی علی آباد در اوقات رسمی به دست آورند.

شرطنامه متذکره را مطالعه و آفر خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سربسته ارایه نمایند. آفر های ناوقت رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمی باشد.

جلسه آفرگشایی به روز تعیین شده مندرج شرطنامه، ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر، در شفاخانه تدریسی علی آباد، منزل ششم تعمیر داخله، اطاق کنفرانس آنکولوژی، واقع کارته سخی، ناحیه سوم، کابل - افغانستان برگزار میگردد. ۳۴۷۶

اعلان مجدد داوطلبی

نام پروژه: اعمار و نصب ترازو تناژ بلند ریاست معادن ولایت فاریاب

نمبر تشخیصیه پروژه:
MOHE /1405 /ATH/ NCB /G- 07

ریاست تدارکات وزارت معادن و پترولیم از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در پروسه داوطلبی پروژه نامبرده اشتراک نموده و شرطنامه مربوطه را از آمریت تدارکات ساختمانی الی روز دوشنبه تاریخ ۲۹/ سرطان/۱٤۰۵ اخذ و آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه طبق قانون و طرزالعمل تدارکات، خانه پری و در جلسه روز آفرگشایی ارایه نمایند.

روز آفرگشایی سه شنبه ۳۰/ سرطان/ ۱٤۰۵ ساعت ۱۰:۰۰ بجه قبل از ظهر می باشد.

جلسه آفرگشایی در ریاست تدارکات وزارت معادن و پترولیم واقع ناحیه نهم، چهارراهی مکروریان، جوار مسلخ دایر میگردد.

اعلان تصمیم اعطای قرار داد

موضوع: اعلان تصمیم اعطای قرارداد عقد بیع استصناع پروژه: اعمار یک باب تعمیر اداری نمایندگی ولایت کندز)

بدینوسیله به تآسی از حکم هشتادو چهارم طرزالعمل تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشود شرکت امارتی نفت وگاز افغانستان در نظر دارد، قرارداد پروژه: اعمار یک باب تعمیر اداری نمایندگی ولایت کندز با شماره تشخیصیه MOMP -W -07 NCB -1405را به شرکت ساختمانی خیبر رسولی، دارنده جواز نمبر (D-۲۹۷۰۷) واقع نو آباد خواجه مشهد مرکز کندز با قیمت مجموعی مبلغ ((٥,۳۷٦,۸۱۹٫۰۰ پنج میلیون و سه صدو هفتادو شش هزارو هشت صدو نوزده افغانی اعطاء نماید.اشخاص حقیقی و حکمی که هر گونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر اعلان الی ٥)) روز کاری طور کتبی با دلایل آن به {آمریت تدارکات شرکت امارتی نفت وگاز افغانستان} واقع {ناحیه ۱۷، سرکوتل خیرخانه} مطابق فقره ۳ حکم هشتادو چهارم طرزالعمل تدارکات ارایه نمایند. این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر وطی مراحل قانونی بعدی قرارداد منعقد نخواهد شد.

اعلان داوطلبی

موضوع: نشر اعلان ۱ پروژه تالک ولسوالی شیرزاد÷ ولایت ننگرهار!

وزارت معادن و پترولیم ساحات معدنکاری ذیل را جهت عقد قرارداد معدنکاری به مقیاس بزرگ به داوطلبی می سپارد، داوطلبان اعم از داخلی و خارجی می توانند جهت اشتراک در پروسهٔ داوطلبی اظهارنامه علاقمندی و پرسشنامهٔ ارزیابی قبلی اهلیت را از ویب سایت (lsmmd.momp.gov.af) و یا از ریاست عمومی کادستر و تطبیق قرارداد ها، وزارت معادن و پترولیم، واقع چهار راهی مکروریان کابل- افغانستان دریافت نموده و بعد از خانه پری الی تاریخ ١٤ اسد ١٤٠٥ به آمریت ارزیابی داوطلبی، ریاست عمومی کادستر و تطبیق قرارداد ها تسلیم نمایند.

اعلان داوطلبی

موضوع: نشر اعلان داوطلبی پروژه مواد اولیه تولید سمنت ساحه قزل سای ولسوالی علی آباد ولایت کندز!

وزارت معادن و پترولیم ساحات معدنکاری ذیل را جهت عقد قرارداد معدنکاری به مقیاس بزرگ به داوطلبی می سپارد، داوطلبان اعم از داخلی و خارجی می توانند جهت اشتراک در پروسهٔ داوطلبی اظهارنامه علاقمندی و پرسشنامهٔ ارزیابی قبلی اهلیت را از ویب سایت (lsmmd.momp.gov.af) و یا از ریاست عمومی کادستر و تطبیق قرارداد ها، وزارت معادن و پترولیم، واقع چهار راهی مکروریان کابل- افغانستان دریافت نموده و بعد از خانه پری الی تاریخ ۳۰ سرطان ١٤٠٥ به آمریت ارزیابی داوطلبی،ریاست عمومی کادستر و تطبیق قرارداد تسلیم نمایند.

اعلان داوطلبی

موضوع: نشر اعلان مجدد مقدار (۸۰۰۰) تن کرومایت سهم وزارت از تولیدات معدن شکار قلعه ولسوالی محمد آغه ولایت لوگر از طریق پروسه داوطلبی!

وزارت معادن و پترولیم مقدار (۸۰۰۰) تن کرومایت سهم وزارت از تولیدات معدن شکار قلعه ولسولی محمد آغه ولایت لوگر تحت جواز معدنکاری شرکت سور غر زابل را از تاریخ ۱٤٤۸/۰۱/۲۱ ه ق مطابق ۱٤۰۵/۰٤/۱٦ ه ش غرض آگاهی علاقمندان به منظور فروش از طریق پروسه داوطلبی برای مدت ۱۰ روز به اعلان مجدد میسپارد.

قابل ذکر است که قیمت ابتدایی برای فی تن کرومایت متذکره از طرف کمیته محترم قیمت گذاری مبلغ (۱۲۸۰۳) افغانی تعین گردیده است و متقاضیان محترم میتوانند درخواستی شان را جهت اشتراک در پروسه مزایده در جریان اعلان به ریاست مدیریت و تطبیق معادن فلزی ارائه و شرطنامه مربوطه را دریافت نمایند و هکذا داوطلبان محترم مکلف اند مطابق رهنمود جدا سازی سهم، ده (۱۰) فیصد مجموعه قیمت ابتدایی را ذریعه تضمین خط بانکی به حیث تضمین به این وزارت ارائیه نمایند.

اعلان داوطلبی

موضوع: نشر اعلان مقدار (۲۸۰) تن کرومایت پروسس شده سهم وزارت از معدن ساحه ورژله ولسوالی تنی ولایت خوست شرکت استخراج و پروسس معادن شرق نفرایت!

وزارت معادن و پترولیم مقدار (۲۸۰) تن کرومایت پروسس شده سهم وزارت در ساحه ورژله ولسوالی تنی ولایت خوست تحت قرارداد شرکت استخراج و پروسس معادن شرق نفرایت را از طریق پروسه داوطلبی برای مدت ۱۰ روز به اعلان میسپارد.

قابل ذکر است که قیمت ابتدایی برای فی تن کرومایت پروسس شده از طرف کمیته محترم قیمت گذاری مبلغ (۱۲۰۰۰) افغانی تعین گردیده است و متقاضیان محترم میتوانند درخواستی شان را جهت اشتراک در پروسه داوطلبی در جریان اعلان به ریاست مدیریت و تطبیق معادن فلزی ارائیه و شرطنامه مربوطه را دریافت نمایند و هکذا داوطلبان محترم مکلف اند مطابق رهنمود جدا سازی سهم، ده (۱۰) فیصد مجموعه قیمت ابتدایی را نقداً به حیث تضمین در روز داوطلبی با خود داشته باشند.

اطلاعیه فروش موتر

اسامی جمشید ولد خان محمد بکعراده موتر پلیت ۲۳۷۴۵- ۵ ش کال نوع هایلکس وانت خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای اسامی نور عزیز ولد عبدالعزیز بفروش رسانیده است.

بنا اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۳۴۳۹

اطلاعیه فروش امتیاز عمده فروشی

محترم فرید الله عیسی زاده ولد صفی الله ولدیت بسم الله دارنده تذکره شماره ۲۲۱۶۰-۰۵۰۵-۱۴۰۰ مسکونه اصلی ولایت کابل مالک امتیاز عمده فروشی ادویه حنفی واقع ناحیه یازدهم ولایت کابل میباشد اکنون خواهان تغیر اسم عمده فروشی ادویه خویش از حنفی به نورین جدید گردیده موسسات و دوایر دولتی که بالای عمده فروشی توزیع ادویه و محصولات صحی مذکور ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت سه یوم معینیت دوا وغذا افغانستان اطلاع دهند. ۳۴۳۳

اعلان مفقودی کارت سلاح

یک قطعه کارت مجوز حمل کلاشینکوف دارای نمبر های ۸۲۱۳ به اسم روح الله فرزند فضل الرحمن مفقود گردیده از اعتبار ساقط است. ۳۴۵۶

اطلاعیه فروش عمده فروشی

محترم خالد باور فرزند سید اسمیعل ولدیت عبدالحسین دارند تذکره نمبر ۵۰۷۴۲- ۱۰۰۳- ۱۳۹۹ مسکونه اصلی ولایت پروان مالک عمده فروشی ادویه پامیر واقع ناحیه اول ولایت کابل خواهان فروش ادویه خویش بالای محترم عبید الله سکندری ولد امیر محمد ولدیت غلام رسول دارنده تذکره نمبر ۰۶۰۵۸- ۱۰۰۰-۱۳۹۷ مسکونه اصلی ولایت کابل گردیده است .

اشخاص ، موسسات و دوایر دولتی که بالای عمده فروشی ادویه مذکور ادعای داشته باشد از تاریخ نشر اعلان الی مدت ده یوم به معینیت غذا و دوا افغانستان اطلاع دهند. ۳۴۵۵

اطلاعیه فروش موتر

اسامی شرکت نوی برادران جمشیدی لمتید بکعراده موتر پلیت ۹۹۸۴۵ ش کال نوع کرولا غرفه دارجاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای اسامی محمد میر ولد گل محمد بفروش رسانیده است.

بنا اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۳۴۳۱

اطلاعیه تغیر اسم عمده فروشی

محترم جاوید احمد نوری ولد سید احمد نوری ولدیت نور الدین دارنده تذکره شماره ۵۴۳۹۰- ۰۲۰۵- ۱۴۰۰ مسکونه اصلی ولایت فراه وکیل شرعی امتیاز عمده فروشی ادویه بهیر واقع ناحیه پنجم ولایت هرات میباشد اکنون خواهان تغیر اسم عمده فروشی از بهیر به مصطفی مصدق گردیده موسسات ودوایر دولتی که بالای عمده فروشی توزیع ادویه ومحصولات صحی مذکور ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت سه یوم معینیت غذا و دوا اطلاع دهند. ۳۴۵۸

اعلان مفقودی

یک قطعه جواز سرمایه گذاری خصوصی شرکت ساختمانی صادق حمید نمبر D- ٦٥٧٦٢ به اسم محمد صادق ولد عبدالرحیم مفقود گردیده از اعتبار ساقط است. ۳۴۵۱

اعلان مفقودی

یک جلد پاسپورت تجارتی به اسم محمد عثمان رمضان ولد رمضان مفقود گردیده از اعتبار ساقط است. ۳۴۳۰

اعلان مفقودی

یک قطعه قرارداد خط از شرکت ساختمانی معمار شهر پروژه سید جمال الدین افغان به اسم شگوفه بنت جلال الدین نمبر زمین ۳۵۷۹ واقع ناحیه دوازدهم ارزان قیمت مفقود گردیده از اعتبار ساقط است. ۳۴۵۴

د داوطلبۍ خبرتیا

د کانونو او پټرولیم وزارت په پام کې لري چې په لاندې جدول کې ذکر شوې د کانونو ساحې د لوی مقیاس د کان کیندنې د قرارداد په موخه داوطلبۍ ته وسپاري، ټول کورني او بهرني لیوال شرکتونه کولای شي د داوطلبۍ پروسه کې د ګډون په موخه د لیوالتیا اظهارلیک او د اهلیت د مخکنۍ ارزونې پوښتنپاڼې د وزارت له (lsmmd.momp.gov.af) ویب پاڼې او یا د کانونو او پټرولیم وزارت دکادستر او قراردادونو د تطبیق عمومي ریاست څخه چې د مکروریانو څلورلارې، کابل - افغانستان کې موقعیت لري، ترلاسه کړي او له ډکولو وروسته یې تر ۳۰ د چنګاښ ۱۴۰۵ نیټې پورې د کادستر او د قراردادونو د تطبیق عمومي ریاست د ارزونې او داوطلبۍ آمریت ته وسپاري.

د کانونو د ساحو مشخصات

شمیره	د کان نوم	ولسوالۍ	ولایت	د موادو ډول	مساحت(کیلومتر مربع)
1	د قزل سای سیمې د سمنټو تولید لومړني خام مواد	علی آباد	کندز	سمنت	۱۰.۱۱۵۶۴۴

ترتیب کوونکی: د ارزونې او داوطلبۍ آمریت — منظور کوونکی: د کادستر او د قراردادونو د تطبیق عمومي ریاست

د داوطلبۍ خبرتیا

د کانونو او پټرولیم وزارت په پام کې لري چې په لاندې جدول کې ذکر شوې د کانونو ساحې د لوی مقیاس د کان کیندنې د قرارداد په موخه داوطلبۍ ته وسپاري، ټول کورني او بهرني لیوال شرکتونه کولای شي د داوطلبۍ پروسه کې د ګډون په موخه د لیوالتیا اظهارلیک او د اهلیت د مخکنۍ ارزونې پوښتنپاڼې د وزارت له (lsmmd.momp.gov.af) ویب پاڼې او یا د کانونو او پټرولیم وزارت دکادستر او قراردادونو د تطبیق عمومي ریاست څخه چې د مکروریانو څلورلارې، کابل - افغانستان کې موقعیت لري، ترلاسه کړي او له ډکولو وروسته یې تر ۱۴ زمری ۱۴۰۵ نیټې پورې د کادستر او د قراردادونو د تطبیق عمومي ریاست د ارزونې او داوطلبۍ آمریت ته وسپاري.

د کانونو د ساحو مشخصات

شمیره	د کان نوم	ولسوالۍ	ولایت	د موادو ډول	مساحت(کیلومتر مربع)
1	د مرکیخېلو درېیمه محدوده	شیرزاد	ننګرهار	ټالک	۹.۵۰۱۴۳۰

ترتیب کوونکی: د ارزونې او داوطلبۍ آمریت — منظور کوونکی: د کادستر او د قراردادونو د تطبیق عمومي ریاست

د اسلامي نظام . . .

اقامه او د منکراتو مخنیوی خپل شرعي مسؤلیت بللی دی.

د یادونې وړ ده، چې ښاغلي الحنفي څو ورځې وړاندې شمالي ولایتونو ته د سفر په لړ کې د بدخشان، تخار، بغلان، بلخ، سمنګان، جوزجان، فاریاب، کندز او سرپل ولایتونو له دیني عالمانو، متنفذینو او قومي مخورو سره هم ناستې ترسره کړې وې.

قطر کې افغان. . .

په ناقانونه توګه ضبط شوي دي.

بل لور ته، برهم صالح د افغان کډوالو د ستونزو په اړه د خپلې خبرتیا په څرګندولو سره ډاډ ورکړی، چې د دغو ننګونو د حل او ورته د رسېدنې لپاره به هڅې وکړي.

له سیاسي اړخه، دغه لیدنه د افغانستان او ملګرو ملتونو ترمنځ د بشري او کډوالو اړوند موضوعاتو په برخه کې د دوامدار تعامل او ډیپلوماتیکو اړیکو د ساتلو نښه بلل کېږي. د دواړو لوریو ترمنځ د دغسې تماسونو دوام کولی شي د کډوالو د ستونزو د نړیوالې مطرح کېدو، د مرستو د جلب او د راستنېدونکو د وضعیت د ښه کېدو لپاره د همغږۍ کچه لا پیاوړې کړي.

بل لور ته، د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ استازي برهم صالح د افغان کډوالو د ستونزو په اړه د خپلې اندېښنې او خبرتیا په څرګندولو سره ډاډ ورکړ، چې د دغو ننګونو د هواري، د نړیوالې همکارۍ د پراخولو او له اړوندو بنسټونو سره د همغږۍ له لارې به د راستنېدونکو کډوالو اړتیاوو ته د رسېدنې لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکړي.

پکتیکا کې . . .

ویل کېږي چې په یاده سره خونه کې تازه مېوې او کرنیز محصولات ساتل کېږي او په جوړېدو سره به یې د پکتیکا بزګرانو ته زیاتې اسانتیاوې برابرې شي.

له اقتصادي اړخه، د دې پروژې بشپړېدل به د پکتیکا د کرنې او بنوالۍ د ودې لپاره مهم ګام وي. د سړې خونې شتون به بزګرانو ته دا زمینه برابره کړي چې خپل محصولات د حاصلاتو د موسم له پای ته رسېدو وروسته هم وساتي او د بازار د مناسب وخت پر مهال يې وپلوري. دا کار نه یوازې د بزګرانو عاید زیاتوي، بلکې د کرنیزو محصولاتو د ارزښت لوړولو، د خوراکي توکو د عرضې د ثبات، د خصوصي پانګونې د هڅونې او په سیمه کې د کارموندنې د فرصتونو په پراختیا کې هم اغېزناک رول لوبولی شي.

مولوي عطاء الله . . .

او شرکتونو غوښتي، چې د تولید، پروسس، بسته‌بندۍ، د کرنیزو محصولاتو د ارزښت ځنځیر، د مالدارۍ پراختیا، د اوبو د سرچینو مدیریت او د کرنې د نوې ټکنالوژۍ په برخو کې له شته فرصتونو څخه ګټه واخلي او په ګډو پروژو کې پانګونه وکړي.

په دې غونډه کې د هند د «پي‌اچ‌ډي» د سوداګرۍ او صنایعو خونې مسؤلینو، د هند د بهرنیو چارو وزارت استازو، په نوي ډیلي کې د افغانستان سفارت سرپرست، د هند د کرنیزو او غذایي محصولاتو د صادراتو د پراختیا ادارې (APEDA) مسؤلینو، د خصوصي شرکتونو مشرانو، صادرونکو، پانګوالو او د دواړو هېوادونو له سلو څخه زیاتو اقتصادي فعالانو ګډون کړی و.

دغه‌راز د غونډې ګډونوالو د کرنې، خوړنیزو صنایعو، مالدارۍ، اوبو لګولو، کرنیزو ټکنالوژیو، نوي کېدونکې انرژۍ، زېربناوو او نورو اقتصادي برخو کې د همکاریو ظرفیتونه ارزولي او د افغانستان او هند د خصوصي سکتورونو ترمنځ د سوداګریزو اړیکو پر پیاوړتیا، د پانګونې پر زیاتوالي او د نویو مشارکتونو پر رامنځته کولو یې ټینګار کړی دی.

د یادونې وړ ده، چې د دغې غونډې جوړېدل، د افغانستان د کرنې وزیر له هندي چارواکو، له ډلې د هند د کرنې او بزګرانو د هوساینې له وزیر او د دغه هېواد د مالي او پراختیایي بنسټونو له مسؤلینو سره د رسمي لیدنو په دوام، د افغانستان او هند ترمنځ د دوه‌اړخیزو همکاریو د پراختیا او د کرنې، سوداګرۍ او پانګونې د ودې لپاره د نویو فرصتونو د برابرولو په لړ کې یو بل مهم ګام بلل کېږي.

ملګرو ملتونو . . .

حل‌لار، هغه مېکانېزمونه دي چې پر عملي کېدو سره یې موجوده ستونزې هوارېدلی شي. برهام صالح ویلي: « دا باید د اندېښنې وړ وي. کېدای شي د نړۍ د ډېرو هېوادونو لپاره دا یوه مهمه موضوع ښکاره نه شي؛ خو راځئ چې تاریخ ته بېرته ور وګرځو. له همدې امله هیله لرم چې دې موضوع ته جدي پاملرنه وشي او د روانو کړکېچونو او تاوتریخوالو مخنیوی وشي. رښتیا دا ده چې د افغانستان، پاکستان او ایران ترمنځ د کډوالو د مسایلو په تړاو خبرو لپاره یو درې اړخیز جوړښت هم موجود دی.»

خو شنونکي بیا په دې باور دي چې د پاکستان پوځي رژیم له لسیزو راهیسې د لوېدیځ د ګټو خوندیتوب په موخه په افغانستان کې له ناکراریو ملاتړ کړی. د دوی په خبره، دې رژیم هېڅکله د یوه هېواد په توګه د تعامل لپاره خپلواک دریځ نه دی څرګند کړی.

د سیاسي چارو شنونکی توریالی ځاځی وایي: « افغانستان تل د پاکستان د جنایت کاره سیاسي موخو قرباني شوی، په دوی باندې باور کول لویه تاریخي تېروتنه ده.»

د افغانستان اسلامي امارت او پاکستان پوځي رژیم ترمنځ ترینګلتیاوې داسې مهال ژورې شوې دي چې پاکستاني رژیم په دې وروستیو کې په پکتیا، پکتیکا او کنړ کې د عامو خلکو کورونه بمبار کړل او لسګونه کسانو ته یې چې ښځې او ماشومان هم په کې شامل وو، مرګ ژوبله واړوله.

لوګر کې. . .

پروسس ټولې چارې د کرنې وزارت د ټاکل شویو معیارونو له مخې او د پرمختللو ماشینونو په وسیله ترسره کېږي، چې له امله یې تولید شوي تخمونه لوړ کیفیت لري او د بزګرانو د حاصلاتو په زیاتوالي کې مهم رول لري.د لوګر د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست د کرنیزو چارو امر انجنیر نصیرالدین بهیج وایي، چې په دغه ولایت کې پنځه شرکتونه د اصلاح شویو غنمو د تخمونو د تولید او پروسس په برخه کې فعالیت لري او د همکارو مؤسسو په مالي ملاتړ ورته اړین تخنیکي وسایل هم وېشل شوي، چې د تولید کیفیت او ظرفیت یې لا پیاوړی کړی دی.د یادونې وړ ده، چې لوګر ولایت د غنمو د اصلاح شویو تخمونو ترڅنګ د حیواني خوراکي موادو د تولید په برخه کې هم فعال شرکتونه لري، چې د کرنې او مالدارۍ د سکټور په پراختیا کې مهمه ونډه لري.

Hewad Daily

د ورځپاڼې رئیس: انجنیرعُزیز بریالی
آمر او مسئول مدیر: محمد قاسم عزام
مسئول سکرتر: شېرمحمد نظري
ډیزاینر: محمدیونس مایار
د ویېپاڼې مدیر : ګل ولي افغانیار
چاپ پته: آزادي مطبعه، اماراتي شرکت
پته: اتمه ناحیه د حضوري چمن ختیځ-کابل

بریښنایي بڼه
X
www.hewaddaily.com
info@hewaddaily.com
020-2526340
0766490049

اسعارو بیعه

یو ډالر	٦٥.٤٠ اف
یو یورو	٧٤.٥٠ اف
یو پوند	٨٥.٤٠ اف
یو درهم	١٧.٨١ اف
زر ریال	٠٣٧.٠٣٦ اف
زر کلداري	٢٢٨.٢٢٩ اف
زر کلداري	٧٤٦.٧٥٦ اف

د هوا حالات

	کابل	هرات	مزار شریف	کندهار	هلمند	فراه	غزني	
٠٤:٤٠	٣٢°C	٣٤°C	٤١°C	٤١°C	٤٠°C	٤٠°C	٢٩°C	٠٧:٠٨

د کورنیو چارو وزیر د شاپور ځدراڼ له کورنۍ او د کرېکټ ملي لوبډلې سره غمشریکي وکړه

د کورنیو چارو وزیر، خلیفه سراج‌الدین حقاني، د افغانستان د کرېکټ ملي لوبډلې د پخواني لوبغاړي اروابښاد شاپور ځدراڼ کور ته ورغلی او د هغه له کورنۍ، خپلوانو او دوستانو سره یې د ژورې خواخوږۍ او داډګیرنې ترڅنګ د افغانستان د کرېکټ ملي لوبډلې له لوبغاړو سره هم غمشریکي څرګنده کړې ده.

د کورنیو چارو وزارت د معلوماتو له مخې، ښاغلي حقاني د اروابښاد شاپور ځدراڼ مړینه د هېواد د ورزش او کرېکټ ټولنې لپاره ستره ضایعه وبلله او ویې ویل، شاپور ځدراڼ یو پیاوړی، بااستعداده او ولسي ځوان و، چې د خپلې لوبې، غوره اخلاقو او هېوادپالنې له امله یې د افغانانو په زړونو کې ځانګړی ځای درلود.

نوموړي زیاته کړه: «شاپور ځدراڼ یو پیاوړی، ولسي او پر خلکو ګران ځوان و، چې مړینې یې ګڼ افغانان غمجن او دردمن کړي دي.» هغه د اروابښاد کورنۍ ته د صبر او زغم دعا وکړه او ویې ویل، د هېواد خلک به د هغه خدمتونه او لاسته راوړنې تل په درنښت یادوي . . .

۲مخ

بهرني لنډ خبرونه

د ایران د پارلمان رئیس:

ایران به هېڅکله د امریکا پر وړاندې تسلیم نه شي

د ایران د پارلمان رئیس، محمدباقر قالیباف ویلي؛ چې تهران به هېڅکله د واشنګټن پر وړاندې تسلیم نه شي او که امریکا له شویو هوکړو سرغړونه وکړي، ایران د هر اړخیز دفاع لپاره بشپړ چمتووالی لري.قالیباف ویلي: «موږ هېڅکله د هېواد د دفاع لپاره له چمتووالي لاس نه دی اخیستی او که امریکایان له شته هوکړې څخه سرغړونه وکړي، هره شېبه د بشپړې دفاع لپاره چمتو یو.» نوموړي همداراز ټینګار کړی، چې د جګړې پای ته رسېدل د نړۍ د ډېرو هېوادونو له لومړیتوبونو څخه دي؛ خو دا جګړه به هېڅکله د ایران په تسلیمېدو پای ته ونه رسېږي.دا څرګندونې داسې مهال کېږي، چې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ تر دې وړاندې ادعا کړې وه، چې تهران او واشنګټن د خبرو پر دوام هوکړې ته رسېدلي؛ خو اوربند پای ته رسېدلی دی.

نوې سروې؛ له هرو اتو امریکایي ځوانانو یو یې د حماس ملاتړ کوي

د امریکا د «پیو څېړنیز مرکز» د یوې نوې سروې له مخې، د ۱۸ تر ۲۹ کلونو عمر لرونکو امریکایانو ۱۳ سلنه، یعنې له هرو اتو ځوانانو یو، د حماس په اړه مثبت نظر لري.د سروې پر بنسټ، د ۳۰ تر ۴۹ کلونو عمر لرونکو ۱۱ سلنه او د ۵۰ تر ۶۴ کلونو عمر لرونکو یوازې ۶ سلنه د حماس په اړه مثبت نظر څرګند کړی دی. د سیاسي تمایلاتو له مخې، ۱۳ سلنه ډیموکراتانو او ۶ سلنه جمهوري غوښتونکو د حماس په اړه مثبت نظر ښودلی او د ۱۸ تر ۲۹ کلونو عمر لرونکو ډیموکراتانو کې دا کچه د کم عمره جمهوري غوښتونکو په پرتله لوړه ثبت شوې ده.
دا په داسې مهال ده، چې په فلسطین کې حماس یوازینی غورځنګ دی چې د غزې له اوسېدونکو سره د اسرائیلو د ظلمونو پروړاندې سخته مبارزه کوي.

ځمکې ښوېېدنې په فلیپین کې لږ تر لږه ۱۵ کسان مړه کړي

د راپورونو له مخې، په فلیپین کې د سختو بارانونو له امله د ځمکې ښوېېدنې په پېښو کې په داسې حال کې لږ تر لږه ۱۵ کسان مړه شوي، چې د «باوي» په نوم پیاوړی توپان د تایوان، جاپان او چین پر لور روان دی.د الجزیرې د راپور له مخې، د فلیپین اړوند د سارانګاني ولایت د مالاپاتان ښار په یوه ځمکې ښوېدنه کې ۱۰ کسان مړه شوي دي.همدارنګه، ځایي رسنیو راپور ورکړی، چې د لاناو دل سور ولایت په بله ځمکه ښوېېدنه کې هم لږ تر لږه پنځو نورو کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړی دی. د مالاپاتان ښاروال سالوي سومبو جونیور ویلي، د قربانیانو یو شمېر د یوې کورنۍ غړي وو او د پرله‌پسې سختو بارانونو له امله د سیمې د ځینو برخو د خلکو د ایستلو لړۍ پیل شوې ده . . .

۲مخ

په درېیو ولایتونو کې د څه باندې ۱.۹ میلیون پشه‌خانو د وېش کمپاین پیل شو

د عامې روغتیا وزارت وایي ، چې د ملاریا او ډینګي ناروغیو د مخنیوي لپاره په ننګرهار، کنړ او لغمان ولایتونو کې د څه باندې ۱.۹ میلیونه پشه‌خانو د وېش کمپاین پیل شوی دی.
ملاریا یوه پرازیتي ناروغي ده او پر دغه پرازیت د ککړې ماشې د چیچلو له لارې انسان ته لېږدي. تبه، لړزه، د سر درد او کمزوري د دې ناروغۍ نښې دي. ډېنګي بیا یوه ویروسي ناروغي ده او هغه هم د ککړې ماشې د چیچلو له لارې انسان ته لېږدي او ښایي د لوړې تبې، د سر، عضلو او بندونو د درد لامل شي؛ دغه ناروغي په سختو حالاتو کې د وینې بهېدو او خطرناکو پایلو لامل هم کېدای شي.
د عامې روغتیا وزارت په یوه خبرپاڼه کې ویلي، چې د دغو ناروغیو د مخنیوي لپاره یې په ننګرهار، کنړ او لغمان ولایتونو کې د پشه‌خانو د وېش کمپاین پیل کړی دی.
د دغه وزارت د معلوماتو له مخې، په لومړي پړاو کې دغه کمپاین د ننګرهار په نازیانو او دورباباولسوالیو، د کنړ په پېچ دره ولسوالۍ او د لغمان په علیشنګ ولسوالۍ کې پیل شوی او په راتلونکو پړاوونو کې به په تدریجي ډول د دغو درېیو ولایتونو ټولې ولسوالۍ تر پوښښ لاندې راولي.
سرچینه زیاتوي، چې د دغه کمپاین په ترڅ کې به په ننګرهار کې یو میلیون او ۴۵۰ زره، په کنړ کې ۴۲۵ زره او په لغمان کې ۴۸ زره او ۵۲۰ پشه‌خانې ووېشل شي . . .

۲مخ

د کور او ښار جوړولو وزیر د تالقان ښار د زون بندۍ پلان تائید کړ

د کور او ښار جوړولو وزارت وزیر الحاج مولوي نجیب الله حیات حقاني، په خپل کاري دفتر کې د تخار د تالقان ښار د زون معلومولو (زونینګ) پلان تائید او لاسلیک کړ. یاد پلان، د کور او ښار جوړولو وزارت د ښاري مطالعاتو او ملي جامع پلانونو ریاست د تخنیکي تیم له لوري، د منظور شوو تفصیلي پلانونو، د سیمې د اوسني وضعیت او د ښاري پراختیایي اړتیاوو په پام کې نیولو سره ترتیب شوی دی.
د تخنیکي ارزونو له مخې، د تالقان ښار د نفوسو ودې، اقتصادي او ټولنیزو بدلونونو له امله . . .

۲مخ

د پنجشېر په درېیو ولسوالیو کې د ماین پاکۍ پروژه پیل شوه

د پنجشېر ځایي مسؤلین وایي، چې په دغه ولایت کې د څه باندې ۹۰ زره امریکایي ډالرو په لګښت د ماین پاکۍ یوې پروژې چارې پیل شوې دي.
د پنجشېر د والي ویاند سیف‌الدین لټون باختر اطلاعاتي اژانس ته ویلي، چې یاده پروژه د پخواني شوروي اتحاد د یرغل پر مهال د پاتې شویو ماینونو او ناچاوده مهماتو د پاکولو په موخه پلې کېږي.
ورته مهال د یاد ولایت د اقتصاد رئیس مولوي فیض‌الباري وایي، چې دغه پروژه د «دافاع» ماین پاکۍ مؤسسې له لوري د څه باندې ۹۰ زره امریکایي ډالرو په لګښت، د اقتصاد ریاست او د پېښو پر وړاندې د مبارزې د چمتووالي ریاست په همغږۍ پلې کېږي.د نوموړي په وینا، د یادې پروژې په لومړي پړاو کې به د درې، ابشار او پریان ولسوالیو په ماین ککړې سیمې او ناچاوده مهمات پاک شي او وروسته به دا پروګرام د ولایت مرکز بازارک او څلورو نورو ولسوالیو ته هم وغځول شي

د ننګرهار؛ ۱۰۰ بزګرانو ته د هایبرېډ جوارو تخم، سرې او کرنیز وسایل ووېشل شول

د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت مسئولین وایي، د ننګرهار ولایت د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست تر چتر لاندې، د کوردېډ مؤسسې په مالي ملاتړ او د افغانستان د کلیو د بیاودانولو مؤسسې (R.R.A.A)په تخنیکي همکارۍ، د ننګرهار ولایت د نازیان او کوټ ولسوالیو ۱۰۰ بزګرانو ته د هایبراېډ اصلاح شویو جوارو تخم، کیمیاوي سرې او کرنیز وسایل ووېشل شول.

د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د اطلاعاتو او عامه پوهاوي رئیس او ویاند' مولوي شبر محمد حاتمي' هیواد ورځپاڼې ته ویلي: «د دغو مرستو په لړ کې هر بزګر ته د یوه جریب ځمکې لپاره ۷ زره دانې د هایبراېډ اصلاح شویو جوارو تخم، ۲۵ کیلوګرامه توره سره او ۵۰ کیلوګرامه سپینه سره ورکړل شوه څو بزګران وکولای شي د خپلو کروندو حاصلات زیات او د کرنې کیفیت لوړ کړي.»د نوموړي په وینا: «پر دې سربېره هر بزګر ته د کرنیزو وسایلو یوه ټولګه هم ووېشل شوه چې بېلچه، لور، کوداله او پنجه پکې شامله وه.» هغه وایي: «د اصلاح شویو تخمونو، کیمیاوي سرو او معیاري کرنیزو . . .

۲مخ

بلخ کې د تېر کال پرتله د غنمو حاصلات ۶۵ سلنه زیات شوي

په بلخ کې سږ کال د غنمو تولید شاوخوا ۳۴۰ زره ټنو ته رسیږي، چې د تېر کال پرتله ۶۵ سلنې زیاتوالی ښیي.
د ورښتونو زیاتوالی، د غنمو د کرنیزو ځمکو پراخېدل او د کافي اوبو شتون د غنمو د حاصلاتو د زیاتوالي مهم عوامل بلل کېږي. په بلخ کې کروندګر، امیرالدین وایي: «سږ کال د خدای په فضل، حاصل ښه و. تېر کال ناروغیو زیانونه اړولي وو. له حکومت مو غوښتنه دا ده، چې لږ تر لږه زموږ ملاتړ وکړي. د اوبو، درملو او کېمیاوي سرو له کمښت سره مخ یو.» بل کروندګر، سراج‌الدین وایي: «د غنمو له حاصلاتو خوښ یو؛ خو ستونزې ډېرې دي. حاصل ښه دی؛ خو کېمیاوي سره ګرانه ده. حکومت باید د سرو د بیو د راټیټولو په برخه کې مرسته وکړي.»خو د حاصلاتو د زیاتوالي ترڅنګ، یو شمېر کروندګر د کېمیاوي سرو د بیو له لوړېدو او د ملاتړ پروګرامونو له کمښت شکایت کوي.
کروندګر نورآغا په دې اړه وایي: «سږ کال کرنه ښه وه او حاصل مو ښه وه؛ خو کروندګر د کرنیزو اوبو له کمښت سره مخ دي. سربېره پر دې، کېمیاوي سره ګرانه ده او لګښتونه هم ډېر دي.»
د بلخ د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست د شمېرو له مخې، تېر کال په دغه ولایت کې څه باندې . . .

۲مخ

ظاهر قدیر له کینیا امریکا ته لېږدول شوی

امریکایي چارواکي وایي، د افغانستان د ولسي جرګې پخوانی مرستیال عبدالظاهر قدیر په کینیا کې تر نیول کېدو وروسته امریکا ته لېږدول شوی، څو د «نشه‌یي توکو د قاچاق او له وسلو سره د ترلو جرمونو» په تور محاکمه شي.اسوشیټېډپرېس خبري اژانس راپور ورکړی، چې ۵۲ کلن ظاهر قدیر د جمعې په ورځ د منهاټن فدرالي محکمې ته حاضر شو او قاضي امر وکړ، چې نوموړی دې تر محاکمې پورې په توقیف کې پاتې شي.
د راپور له مخې، ظاهر قدیر د اپرېل په ۱۵مه د کینیا په پلازمېنه نایروبي ښار کې نیول شوی و او وروسته امریکا ته ولېږدول شو، څو امریکا ته د «هیروئینو او مېتامفیتامینو د واردولو او له وسلو سره د ترلو جرمونو» تورونه یې وڅېړل شي.د راپور پر بنسټ، تر اوسه څرګنده نه ده، چې په دې قضیه کې د هغه وکالت څوک پر غاړه لري؛ خو که تورونه پرې ثابت شي، کېدای شي لږ تر لږه په لس کاله او یا هم په عمري بند محکوم شي.د ظاهر قدیر مدافع وکیل اومېګا اوچینګ تر دې مخکې دغه تورونه رد کړي او ویلي یې وو، چې موکل یې د نیول کېدو پر مهال «له افغانستانه د سوداګرۍ لپاره کینیا ته تللی و او غوښتل یې بېرته خپل هېواد ته ستون شي.»